## مطبوعاتي وينا

# د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو دفتر وايي، چې په افغانستان کې اپينو مارکيټ مخ په ځوړ دی

### کرنه، توليد او بيې ښکته شوې دي

### د يو اين او ډي سي اجرايي مشر د افغاني "مخدره توکو د انحصار خبرداري ورکوي

کابل، سپتمبر ۲، ۲۰۰۹ (يو اين او ډی سي). د افغاني اپينو سروې (د پيژندنو لنډيز) چې نن په کابل کې اعلان شوه. د مخدره توکو او جنايتونو په باب د ملګرو ملتونو دفتر (يو اين او ډی سي) راپور ورکوي چې "په افغانستان کې د اپينو مارکيټ اوس خپل بنياد له لاسه ورکوي." د اپينو په کرنه کې ۲۲ سلنه او په توليد کې يې ۱۰ سلنه کمي راغلی دی او قيمتونه په لسو کلونو کې ټيټه اندازه لري. د اپينو څخه د خلاصو ولايتونو شمير له ۱۸ څخه ۲۰ ته ورسيد او په زياته اندازه مخدره توکي نيول شوي دی ځکه چې افغان او د ناټو ځواکونو د مخدره توکو په ضد خپل عمليات چټک کړی دي. د يو اين او ډی سي مشر انتونيو ماريا کوستا و ويل: "په داسې وخت کې چې د افغانستان د وضيعت په باب بدبيني ډيره شوې ده دغه نتيجې د ښو خبرو پيلامه ده او څرګندوي چې پرمختګ ممکن دی."

د کوکنارو کښت (۱۲۳،۰۰۰) هکتاره ځمکې پورې رالويدلی چې په ۲۰۰۷ کې دغه اندازه ۱۹۳۰۰۰ هکتاره ځمکه وه. په دې کال کې د اپينو کښت په هلمند کې يو په دريمه برخه لويدلی. په ۲۰۰۸ کې دلته ۱۰۳۵۹۰ هکتاره ځمکه په اپينو کرل شوې وه اوس ۶۹۸۳۳ هکتارو ته رالويدلې ده. د افغانستان په يوه ډير بې ثباته ولايت کې دغه ډراماتيک بدلون کيدای شي د دې لاندنيو لاملونو د ترکيب په نتيجه کې منځ ته راغلی وي. د والی له طرفه ښه مشرتوب، د مخدره توکو په ضد تيری کوونکي عمليات، د قانوني فصلونو لپاره د سوداګري ښه شرايط، او د خوړو د علاقو په موفقانه ډول معرفي کول چې جايز او مشروع کرنيز فعاليتونه تقويه کوي.

د اپينو توليد په افغانستان کې دومره په ډراماتيک ډول نه دی رالويدلی (۶۹۰۰ ټنه توليد چې ۱۰ سلنه ټيټوالی) لکه څنګه چې د هغو په توليد کې کمی راغلی دی، ځکه بزګران له يوه پياز څخه ډير اپين لاس ته راوړي. په دې کال کې په افغانستان کې د اپينو له کښت څخه په هر هکتار کې ۵۶ کيلو ګرام ترياک لاس ته راغلي دی. دغه اندازه د ۲۰۰۸ په سلو کې ۱۵ زياتوالی ښيي او پنځه ځله له هغه څه زيات دی چې کروندګرو د جنوبي ختيځي اسيا په طلايي مثلث کې لاس ته راوړل (په يوه هکتار کې ۱۰ کيلو ګرامه).

د ترياکو لپاره په نړۍ کې اړتيا ثابته پاتې ده. (څه نا څه ۵۰۰۰ ټنه) دغه اندازه له هغه مقدار څخه څو زره ټنه کم دی چې افغانستان يې په کال کې توليدوي. خو قيمتونه ښکته نه دی راغلي او د دې مانا دا ده چې د اپينو زياته اندازه مارکيټ ته نه دې راوتلی. ښاغلی کوستا وايي: "د نشه يي توکو زيرمه اوس ښايي له (۱۰۰۰۰) ټنو څخه زياته وي (دغه اندازه په نړۍ کې د دوو کلونو د هيروينو) د روږدو او يا په طبابت کې د (مورفين) د نسخو لپاره د دريو کلونو مصرف برابروي." هغه اخطار ورکړ چې: "څوک يې په کوم ځای کې زيرمه کوي او د څه لپاره؟ خفيه ايجنسي ګاني بايد د اپينو د زيرمې بم خنثی کړي مخکې له دې چې هغه د نورو بدمرغو صحنو لپاره په احتمالي سرچينو باندې واوړي."

د زيرمې په ځای کې (افغانستان) د دې زيات توليد او د مارکيټ کمښت (اروپا) د دې لامل ګرځی لامل ګرځي چې د ترياکو بيې راپريوځي. د عمده پلورنې (د کښت پرسر) بيې په تير کال کې يو پر درې راپريوتې. د يو کيلو ګرام تازه افيونو بيه د ۷۰ ډالرو څخه ۴۸ ډالرو ته او د وچ افيونو بيه د يو کيلو ګرام د ۹۵ څخه ۶۴ ډالرو ته راکښته شوه. په افغانستان کې د ترياکو ارزښت د ۱۹۹۰ کلونو را په دې خوا کله چې طالبان په واک کې و دومره نه وه راټيټه شوې.

سږ کال د ترياکو کروندګرو د هغوي د هر هکټار په سر نا خالصه ګټه يو پر څلور چې په يو هکتار ځمکه کې د ۳۵۶۲ ډالرو پورې په ۲۰۰۸ کې د ۴۶۶۲ ډالرو څخه راپريوتله. د بيو راټيټيدل او سږ کال د کوکنارو لږ کښت د کښت پر سر په افغانستان کې د افيونو ارزښت ۴۰ سلنه په ټوليز ډول د ۴۳۸ ميليونو ډالرو پورې راټيټ کړ. دا د هيواد د نامشروع ناخالص کورني عايد ۴ سلنه جوړوي چې د ۲۰۰۷ کال په پرتله چې ۱۲ سلنه وو، ټيټ دی، او دا چې د ۲۰۰۲ کال د ۲۷ سلنې سره د پرتلې وړ نه دی. د ۸۰۰۰۰۰ څخه لږ وګړي د ترياکو په کرنه کې د ۲۰۰۸ کال په پرتله بوخت دي.

افغان او د ناټو ځواکونه خپل فشار د مارکيټ له ځواکونو سره يو ځای کوي. ښاغلی کوستا وويل: "د نشه يي توکو او شورش تر منځ اړيکې اوس پيژندل شوي دي چې بايد وربانديې وسله وال بريد وشي." تر اوسه پورې د مخنيوی فعاليتونه زياتره اغيزمن نه وو. خو بيا هم د نړۍ ۹۰ سلنه افيون د افغانستان څخه راځي، او د ۲ سلنې څخه لږ يي هملته نيول کيږي ( د ۲۰ سلنې څخه زيات کوکاين په نړيواله کچه پخپله د دې د عمده توليد کوونکي، کولمبيا له خوا نيول کيږي). وروسته وخت کې د نشه يي توکو ضد عمليات ډير وخت په زياته پيمانه سرته رسيږي. د ۲۰۰۹ کال په لومړۍ نيمايي کې د نظامي عملياتو په ترڅ کې ۹۰ ټنه ترکيب کيدونکی کيمياوي مواد، ۴۵۰ ټنه تخمونه، ۵۰ ټنه ترياک، ۷ ټنه مورفين، ۱،۵ ټنه هيروين، ۱۹ ټنه چرس او ۲۷ لابراتوارونه تخريب او له منځه يوړل شول. د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو ضد سازمان د وينا له مخې: "په داسې حال کې دا د افغانستان د نشه يي توکو د اقتصاد يوه کوچنی برخه ده، دې سره د نشه يي توکو د قاچاق کوونکو لپاره ګواښونه زيات شول او دا د راتلونکی وخت لپاره دهغو مخه نيسي."

د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو دفتر د وينا له مخې "له منځه وړل د يوې ناکامی په توګه پاتې کيږي." په تيرو دوو کلونو کې يوازې ۱۰۰۰۰ هکتاره کوکنار (د کښت شوو د ۴ سلنې څخه لږ) له منځه يوړل شول او هغه په ډيره زياته انساني او اقتصادي بيه. ښاغلی کوستا د کروندګرو لپاره د زياتې مرستې غوښتنه وکړه. هغه وويل: "د ټاکنو وروسته افغانستان کې بايد د کليو د پراختيا چارې د اوسنيو وسله والو يرغلونو په پرتله زياتې ګړندۍ شي څو چې کروندګرانو ته خواړه او کار ور په برخه شي، نه دا چې يوازې د هغوي د نشه يي توکو پلټنه او تخريب ترسره شي."

د اوسنيو پرمختګونو سره سره د افغانستان مخدره توکي اوس هم ډير ناوړه عواقب او پايلې لري. دغه مخدره توکي جنايت کاران، شورشيان او ترهګران په افغانستان او د افغانستان د باندې تمويلوي. د دولتي مفسدو چارواکو سره جوړجاړي او معامله د ولس باور، امنيت او قانون تر پوښتنې لاندې راولي. د پيسو د پريمينځلو او پاکولو سره په خليج او د هغه څخه وړاندې ځايونو کې د بانکونو اعتبار او شهرت ته تاوان رسوي. د افيونو اعتياد په افغانستان، ايران، منځنۍ اسيا او روسيه کې يوه ستره ستونزه ده.

ښاغلی کوستا خبرداری ورکړ چې: "د شورشيانو او جنايت کارو ډلو ترمنځ جوړ جاړی او تفاهم په افغانستان کې د مخدره توکو کارتلونه منځته راوړي." د نړۍ په نورو برخو کې لکه کولمبيا او برما (ميانمر) او په افغانستان کې د مخدره توکو سوداګري د شورش لپاره د تمويل د زيرمې په توګه پخپله د دې پايله ده. د ښاغلی کوستا د وينا له مخې: "د نشه يي توکو بيې اعتياد راوړونکي دي او دا يوازې ايډيالوژۍ ته زمينه جوړوي."

هغه خپل غږ د مخدره موادو هغو قاچاقچيانو لپاره چې د ترهګرۍ سره تړلې دي پورته کړ څو د هغوي په اړه د ملګرو ملتونو د امنيت شورا ته ريپوټ ور شي (د ۱۷۳۵ لمبر پريکړه ليک سره سم). "د مخدره توکو ستر کارکوونکي بايد دعدالت منګولو ته وسپارل شي- نه دا چې د نړيوال قانون سره په مغايرت کې اعدام او يا هم د سياسي مصلحت لپاره وبخښل شي."

د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو د دفتر مشر د افغان ترياکو د ګواښ سره د مبارزې په خاطر د يوه سيمه ييز روش د ضرورت پر سر ټينګار وکړ. ښاغلی کوستا وويل چې د افغانستان/پاکستان د تمرکز ستاينه بايد وشي خو موږ بايد دغه هدف تر ايران او مرکزي اسيا پورې وغځوو. دا د دې باعث شو چې د ملګرو ملتونو د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې په برخه کې د اطلاعاتو د شريکولو او ګډو عملياتو د ترسره کولو په برخه کې يو درې

اړخیزه نوښت لاري ته واچوي، دې دفتر همدارنګه د قزاقستان په پلازمینه الماتا کې د مرکزي اسیا د استخباراتو یو مرکز رامنځ ته کړ.

ښاغلی کوستا د دې خبرداری ورکړ چې په هیواد کې د مخدره توکو د کنترول له لارې نه شي کیدای چې د هیواد ستونزې هوارې شي خو د هیواد ستونزې د مخدره توکو د کنترول څخه پرته هم شوني نه دي. نوموړی همدارنګه وویل چې د دې ویل به د وخت څخه وړاندې وي چې د تریاکو کښت او تولید د تیرو دوو کلونو په ترڅ کې د مارکیټ یوه اصلاح وه، کیدای شي دا لړۍ بیرته په شاتګ وکړي او یا هم کښته ولاړه شي. خو نوموړی همدارنګه د زیات پرمختګ په هیله د زیاتې څیړنې غوښتنه وکړه. د پخوا په شان هیڅکله هم د مخدره توکو پر ضد او د یاغیتوب پر ضد د مبارزې تر منځ اړیکه نه شلیدونکې وه، نوموړې وویل.

د ملګرو ملتونو نو د مخدره توکو او جرمونو د دفتر مشر د افغان چارواکو او نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه وکړه څو تعیین شوی اقتصادي او د مخدره توکو پر ضد د مبارزې مرستې زیاتې کړي. نوموړې زیاته کړه: "دا به یوه تاریخي تیروتنه وي که چیرې موږ دغه د نه انکار وړ پرمختګ ته اجازه ورکړو چې تر پوښتنې لاندې راوستل شي، نه یوازې د نیستمنو کروندګرو په ځمکو کې بلکه د ځانمرګو بریدونو په ساحو کې."

د راپور بشپړه کاپي په www.unodc.org ویب پاڼه باندې د لاس رسي وړ ده.

همدارنګه په راتلونکو څو میاشتو کې به، د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو دفتر راتلونکي مواد خپاره کړي:

- د افغانستان د تریاکو د سوداګرۍ په هکله د ګواښونو ارزونه
- د افغانستان د چرسو سروی
- په افغانستان کې د نشه یي توکو د استعمال په اړه سروي
- د افغانستان د اداري فساد په هکله سروي

د لا زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ په لاندې ډول اړیکه ټینګه کړئ
والټر کیمپ، د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو د دفتر ویاند او وینا لیکونکی
تیلفون: 5629-26060 (1-43+) ګرځنده: 5629-1459 (699-43+)
بریښنالیک: walter.kemp@unodc.org